Pashto Version

# د کهوالو لپاره سرچيني




# د امريکا متحده آيالاتو قانون: د لومړي تعديل حقونه

## د امريکا متحده آيالاتو اساسي قانون او د حقونو مسؤده


د امريکا متحده آيالات په کال 1776 کې د لوی برتانيا پروړاندې چې د 1600 راهيسې يې دا هيواد د مستعمرو په توګه درلود، د يوې انقلابي جګړې پرمهال تاسيس شوي. د خپلواکۍ نه وروسته، دا مستعمرې آيالتونه شو او د هر آيالت څخه استازو د امريکا متحده ايالاتو د اساسي قانون مسؤده چمتو کړه کوم چې د نوي ملت قوانين جوړ کړل. د دې لپاره چې نافذ شي، اساسي قانون بايد د تصويب له لارې د هر آيالت لخوا منل شوی وی.

د نوي اساسي قانون تصويب د تود بحث موضوع وه او پداسې حال کې چې په نهايت کې بريالی شو، هر آيالت د بدلونونو يو اوږد نوملړ درلود چې غوښتل يې په اساسي قانون کې يې راوړي. د دې بدلونونو څخه ډيری يې د حکومت هرډول ممکن ظلم او ستم څخه د خلکو د حقونو محافظت کول و. د ډيری ټولو سپارښتنه شوي بدلونونو څخه، لس يې په کال 1791 کې د تعديلاتو په توګه اساسي قانون ته وراضافه شوي. دغه لومړي لس تعديلات د حقونو مسؤدې په نوم پيژندل کيږي. نور تعديلات وروسته وراضافه شوي، او که څه هم مشکل و، اساسي قانون په راتلونکي کې بيا هم تعديل کيدی شو.

## لومړی تعديل

لومړی تعديل وايی چې حکومت نشي کولی يو شخص په آزادانه ډول په خپل مذهب يا دين د عمل کولو نه منع کړي هغه که هر مذهب وي. دا همدارنګه حکومت د بيان آزادی، د مطبوعاتو آزادۍ، او په سوله ييز ډول د خلکو راټوليدو او حکومت نه د غوښتنې کولو حق محدود کولو څخه منع کوي. علاوه لدې، لومړی تعديل حکومت د "مذهب تاسيس کولو" څخه منع کوي، يعني حکومت نشي کولی هيڅ کوم مذهب ته ارتقا ورکړي، تبليغ يې وکړي، يا له مينځه يې ويسي.

د امريکا متحده آيالاتو قانون: د لومړي تعديل حقونه



# پنځه آزادۍ

## د مذهب آزادي

خلکو ته اجازه ورکوي چې د حکومت د مداخلې نه پرته د خپلو مذهبي باورونو او عقيدې مطابق عبادت وکړي.  دا آزادي همدارنګه په هيڅ يوه مذهب د باور او عقيدې نه درلودو انفرادي حق هم محافظت کوي، پشمول د بې دينۍ.

## د بيان آزادي

د يوه فرد دا حق محافظت کوي چې په عام محضر کې خپل نظر څرګند کړي حتی که هغه د حکومت نه انتقاد هم وي. پدې کې سمبوليک بيان هم شامل دی لکه د داسې يوه ټي شرټ اغوستل چې شعار وربانديې وي يا د خپل کور مخې ته د کومې نښې يا علامې ځای په ځای کول.

## د مطبوعاتو آزادي

ژورنالستان او خبري سازمانونه د حکومت په واسطه د سانسور کيدو نه محافظت کوي.



## په سوله ييز ډول د راټوليدو آزادي

خلکو ته اجازه ورکوي چې په عامه ځايونو کې راټول شي او په ټوليز ډول خپل نظرونه بيان کړي تر هغه پورې چې دا کار په سوله ييز ډول کوي.

## حکومت ته د عريضې يا غوښتنه کولو آزادي


افرادو يا ډلو ته اجازه ورکوي چې رسماً د ځايی، آيالتي يا ملي حکومت څخه غوښتنه وکړي چې شته قوانينو يا مقرراتو کې د بدلونونو راوړلو له لارې بيان شوی شکايت يا بې عدالتي په ګوته کړي.




# د لومړي تعديل محدوديتونه او آيالتي قوانين

د لومړي تعديل لاندې محافظت شوي آزاديو کې ځينې مهم استثنات شتون لري. د ګواښونو کول، د سمدستي تاوتريخوالي تحريک کول، يا د حکومت په تاوتريخوالي پرزولو وړانديز کول غيرقانوني دي. د سترو غونډو او راټوليدو په وخت او موقعيت کې حکومت کولی شي د راټوليدو او د ځايی محدوديتونو لپاره جواز اخيستل لازمي کړي ترڅو ترافيک مديريت کړي او د خلکو د ګڼوڼيو مخنيوی وکړي. د کرغيړنتيا او پورنوګرافي پورې تړلي ځينې محدوديتونه هم شتون لري. د مذهب آزادي الزاماً داسې کړنې او اعمال نه محافظت کوي کوم چې د خلکو د محافظت لپاره قوانينو په واسطه منع شوي دي، لکه د ښځينه و د جنسي آلې پرې کول کوم چې د امريکا متحده آيالاتو کې غيرقانوني دي.

د لومړي تعديل حقونو تفسير ځينې وختونه د لانجو لامل کيږي چې بايد په قانوني محکمه کې حل او فصل شي. د بيان او مذهب آزادۍ په تړاو قوانين په يوه او بل آيالت کې سره يوڅه توپير لري، مګر دا ټول بايد د لومړي تعديل سره سمون ولري. د امريکا متحده آيالاتو ستره محکمه کولی شي پريکړه وکړي چې آيا د يوه آيالت قانون د لومړي تعديل نه سرغړونه کوي که نه، او که هو نو آيالت اړ دی چې قانون بدل کړي. په کوم آيالت کې چې تاسې اوسيږئ د هغه آيالت قوانينو باندې ستاسې پوهيدل مهم دي ترڅو تاسې پوهه شئ چې هغه څنګه تاسې محافظت کولی شي او تاسې وکولی شئ اطاعت يې وکړئ.




**Cultural Orientation Resource Exchange**
8719 Colesville Road, 3rd Floor • Silver Spring, MD 20910
For more information, visit the CORE Resettlement Navigator website at **corenav.org**.

The contents of this fact sheet were developed under an agreement financed by the Bureau of Population, Refugees, and Migration, United States Department of State, but do not necessarily represent the policy of that agency and should not assume endorsement by the Federal Government. **This material is in the public domain and may be reproduced.**